# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د مې ۲۰مه | دریيم کال|۳۷۶یمه ګڼه


## هېواد


۴ مخ

### اردن

دغه هېواد سره له دې چې ډېره ځمکه يې د کرلو وړ نه ده، خو بيا هم د ناخالص کورني توليد او سړي سرکلني عايد په حساب، د اسيا او نړۍ د پرمختلونکو هېوادونو له ډلې دی.



### سږ کال پر ۳۰ زره جريبه ځمکه د ژر او ناوخته رسېدونکو مېوو باغونه جوړېږي



د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزير په کابل کې د ژر رسېدونکو مېوو په دويم نندارتون کې ويلي، ټاکل شوې چې سږ کال پر ۳۰ زره جريبه ځمکه د ژر او ناوخته رسېدونکو مېوو باغونه جوړ شي.

په دغه يو ورځني نندارتون کې چې د کرنې په وزارت کې جوړ شوی و، د کندوز، بلخ، سمنګان، بغلان او ننګرهار ولايتونو مېوې لکه شفتالو، زردالو او بېلابېل سابه ننداري ته اېښودل شوي وو.

د دغه وزارت د چارواکو په خبره، همدا اوس د هېواد په ختيځ زون کې د ژر رسېدونکو مېوو شاوخوا درې زره جرېبه باغونه موجود دي، چې نږدې ۱۲ زره ټنه مېوه ترې ترلاسه کېږي.

د يادو چارواکو په خبره، دوی هڅه کوي چې په هېواد کې د مېوې توليد زيات او په دې برخه کې له بڼوالو سره لازمې مرستې وکړي.

# راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې؛

## څارونکي بنسټونه وايي چې د ټاکنو کمېسيون نوې رهبري تر دې دمه ناکامه ده




۳

### د ولسي جرګې له شرمه ډکه ننداره او د ستونزې ساده حل

۲ مخ

### افغان سوله، خلک يې په تړاو کومې پوښتنې لري؟

۲ مخ

### امریکا له ایران سره جنګ غواړي؟

۳ مخ

## د ولسي جرګې د ستونزې د حل پلاوي راټولې شوې پايلې به نن د جرګې غونډې ته اعلان شي

د ولسي جرګې د رياست پر سر د را ولاړې شوې ستونزې د حل ټاکل شوي پلاوي ويلي، چې خپلې پايلې به نن د جرګې په عمومي تالار کې اعلان کړي.

وروسته له هغې د ولسي جرګې د رياست د څوکۍ د ستونزې د هوارې لپاره پنځلس کسيز پلاوی وټاکل شو، چې معترضو وکيلانو مير رحمان رحماني پرې نښود چې د رياست پر څوکۍ کېني.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ د ولسي جرګې د رياست لپاره په ټاکنو کې مير رحمان رحماني ۱۲۳ او کمال ناصر اصولي ۵۵ رايې وګټلې. د جرګې موقت رييس اعلان وکړ چې رحماني ګټونکی دی، خو اصولي او ځينو نورو وکيلانو اعتراض وکړ او د نوموړي له رياست سره يې مخالفت وښود.

دوی ويل، ۱۲۳ رايې د ټولو ۲۴۷ حاضرو وکيلانو پنځوس جمع يو رايې نه پوره کوي، نو بايد د نورو کانديدانو ترمنځ بل پړاو ټاکنې وشي.

له دې ستونزې وروسته د مير رحمان رحماني او کمال ناصر اصولي له اړخه پنځه پنځه کسان او پنځه هم ناظر وکيلان د ستونزې د هوارې د پلاوي په ترکيب کې وټاکل شول.

ناظر وکيل عرفان الله عرفان په دې اړه ازادي راډيو ته ويلي: «له اوږدو بحثونو وروسته پرېکړه په دې وشوه، چې دواړو ټيمونو له موږه وخت واخيست چې د موضوع حقوقي، قانوني او تخنيکي اړخونه په پام کې ونيول شي، ترڅو يوې حللارې ته سره ورسېږو، بيا وروسته به دا په عمومي غونډه کې اعلان کړو».

## د ټاکنيزو کمېسيونونو د پخوانيو غړو دوسيې ستري محکمې ته استول شوې دي



۵ مخ

## احزاب: حکومت برای ایجاد هیئت گفت‌وگوکننده با طالبان بی‌میل است




برخی از اعضای رهبری احزاب و جریان‌های سیاسی، حکومت افغانستان را در کار ایجاد یک هیئت گفت‌وگوکننده با طالبان به کم‌کاری و بی‌میلی متهم می‌سازند.

این احزاب و جریان‌های سیاسی، گفته است که حکومت در عملی ساختن مشوره‌های لویه جرگه مشورتی صلح در این باره نیز، کوتاه آماده‌است.

عبدالله قرلق، معاون حزب جنبش ملی اسلامی افغانستان در این باره گفته است: «رئیس صاحب جمهور مشوره‌های لویه جرگه مشورتی صلح را در نظر نگرفته است و دربارۀ این مشوره‌ها تا هنوز کدام اقدام صورت نگرفته‌است».

اسدالله سعادتی، عضو رهبری حزب وحدت اسلامی نیز بیان داشته است: «متأسفانه هدف حکومت دربارۀ لویه جرگه بحث صلح نبود، بلکه ایجاد چالش در برابر صلح بود و به همین دلیل علاقه‌یی برای صلح ندارد». این در حالی است که دوهزار و سه‌صد نماینده از سراسر افغانستان که به تاریخ ۹ تا ۱۳ ثور در لویه جرگۀ مشورتی صلح شرکت کرده بودند، در قطع‌نامه‌یی، از حکومت افغانستان خواستند تا یک هیئت گفت‌وگوکنندۀ همۀ شمول و ملی را با طالبان ایجاد کند. اکنون که بیش از دوهفته از این جرگه می گذرد، حکومت می‌پذیرد که تا هنوز یکی از مشوره‌های این جرگه عملی نشده‌است. برای ایجاد این هیئت ملی و فراگیر، حکومت افغانستان ناگزیر است که با احزاب و جریان‌های سیاسی مشوره کند، اما احزاب و جریان‌های سیاسی می گویند که تا اکنون حکومت افغانستان در این باره با آنان مشوره‌یی نکرده‌است.

## دریځ

### د ولسي جرګې له شرمه ډکه ننداره او د ستونزې ساده حل

پرون په ولسي جرګه کې بیا له شرمه ډکه ننداره وه. د اختلافاتو له حل وړاندې میر رحمان رحماني هڅه کوله چې د رییس په څوکۍ کښېني، خو ځینو ښځینه وکیلانو د ریاست څوکۍ اشغال کړه. رحماني د وسله والو په زور د ولسي جرګې تالار ته ننوت، وروسته د ریاست د څوکۍ په یو اړخ کې له خپلو پلویانو سره کښېناست. بلخوا د ریاست په بل اړخ کې کمال ناصر اصولي له خپلو پلویانو سره ناست و. د ولسي جرګې په تالار کې پرون چیغې وې، سپکې او سپورې ویل کېدې او آن خبره تر وهلو پورې ولاړه. ویل کېدل چې یوه وکیل چاقو را ایستلی، خو وروسته وویل شول چې هغه د رییس پر مېز پروت سوټک و چې پر بل وکیل یې د ګوزار لپاره را اخیستی و.

د ولسي جرګې پرونۍ او د ورمې ورځې ناستې رښتیا هم د هر افغان لپاره د شرم او خپګان وړ وې. خلکو پر دغو وکیلانو چې ځانونه د خلکو استازي ګڼي او یا هم رښتیا خلکو رایې ورکړې دي، د شرم احساس کاوه. دوی په خپلو لومړیو ورځو کې داسې ننداره وړاندې کړه چې نه افغاني وه او نه هم متمدن او مهذب خلک دغه ډول کړنې کولی شي. له بده مرغه ښکاري چې دا ځل هم په ولسي جرګه کې د عقل او فکر پر ځای تر ډېره لاس او پښې کارول کېږي. پارلمان ته ورغلي ډېری کسان نالوستي، کم لوستي او یا هم داسې کسان دي چې د پیسو په زور یې تحصیلي اسناد جعل کړي دي. د دوی مخینه هم د شرم وړ ده، ډېری یې د امریکایانو د تېلو، فاضله موادو او یا هم نورو برخو قراردادیان دي او یا هم له قاچاق او نورو لارو یې تورې پیسې پیدا کړې چې پر مټ یې ولسي جرګې ته هم راغلي دي.

اوس دوی یوه ساده لانجه دومره پېچلې کړې چې کله یو پر بل ګوزار کوي، کله سپکې سپورې وایي او کله هم دې چارې ته قومي رنګ ورکوي. خلک پوهېږي چې دوی لویه برخه مفسدین دي او په لومړیو ورځو یې خپل فساد ښکاره کړ. خپله وکیلان وایي چې پیسې او زرې موټر وېشل شوي، د ځینو وکیلانو کورونو ته زرې موټر ور وستل شوي او ځینو ته په تشنابونو کې پیسې ورکړل شوې دي. په دې ډول دا ولسي جرګه د فساد جرګه ده چې هم په خپلو کړنو سره ځان او خپل ولس شرموي.

اړتیا څه ده چې په یوه عادي موضوع کې دومره له شرمه ډک او غیر متمدن چلند وشي. په ولسي جرګه کې ټاکنې شوې دي. هلته اصول او قوانین شته. د دغو اصولو او قوانینو په چوکاټ کې دې دا موضوع وکتل شي. د زور، سپکو، سپورو او وهلو ټکولو اړتیا څه ده!؟ که وکیلان مهذب خلک وي او عقل وکاروي، دا ستونزه په اسانۍ حل کېږي. د ولسي جرګې د ریاست لپاره د ټاکنو په ورځ نصاب ۲۴۷ کسان اعلان شوی و. اوس د ستونزې حل اسانه دی. که نصاب د وکیلانو د حاضرۍ، د اخیستل شوو او لاسلیک شوو رای پاڼو پر اساس اعلان شوی وي او هغه ۲۴۷ وي، نو روښانه ده چې رحماني رییس نه دی، ځکه چې ۱۲۴ رایې اخیستې دي، خو که نصاب هسې اټکلي او یا په تېروتنه ۲۴۷ اعلان شوی وي او د وکیلانو په حاضرۍ او اخیستل شوو او لاسلیک شوو رای پاڼو کې نصاب ۲۴۴ وي، نو بیا رحماني رییس دی او نور وکیلان یې باید ومني او لانجه ونه کړي.

# افغان سوله؛ خلک یې په تړاو کومې پوښتنې لري؟

لیکنه: محمدعمر کمال / ژباړه: مسیر ورځپاڼه

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ د شپږمې ناستې له پای ته رسېدو او د سولې په تړاو د لویې مشورتي جرګې له دایرېدو وروسته، لاهم د سولې په تړاو له خلکو سره ځینې پوښتنې شته، چې د ځواب په موندلو کې یې پاتې راغلي او دوی لا هم نه پوهېږي، چې دغه اوړدې او ګونګې پروسې ته خوشبین و اوسي که بدبین؟

په دې لیکنه کې هڅه کوو چې د دغو پوښتنو د مطرح کولو ترڅنګ ورته ځوابونه هم پیدا کړو. البته یو څه چې باید روښانه شي، هغه دا دي چې د دغو خبرو له پای ته رسېدو وروسته به څه کېږي، هغه پوښتنه ده چې په وخت او د سولې په روانو مذاکراتو په ځانګړې توګه په حاکمو سیاسي شرایطو پورې اړه لري.

**طالبان ولې له افغان حکومت سره د سولې خبرې نه کوي؟**

دا هغه پوښتنه ده چې ډېری وخت یې مطرح کوي او دوی وایي، سره له دې چې طالبان د دې ادعا کوي چې د دوی له لوري خبرې په ازادانه ډول پر مخ ځي او دوی په دغه پروسه کې پوره خپلواکي لري، خو بیا هم له افغان حکومت سره خبرو ته نه کېني؟

طالبان ادعا کوي چې افغان حکومت ورته د منلو نه دی او دوی یې په رسمیت نه پېژني. دوی د افغانستان اوسنی حکومت د کابل د ادارې په نوم پېژني او وایي چې دغه اداره د امریکایانو له لوري رامنځته شوې او د دوی د ګټو د خوندیتوب لپاره کار کوي. دوی پر امریکا له دې کبله نیوکه کوي، چې د دوی د اسلامي امارت په نوم حکومت یې د ټولو نړیوالو قوانینو او پرېکړه لیکونو پر خلاف نسکور کړ او افغانستان یې تر خپلې ولکې لاندې راوست، نو له همدې کبله دوی دې ته ترجیح ورکوي، چې له خپل اصلي طرف (امریکا) سره مخامخ خبرې وکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې ولې امریکا په تېرو اتلسو کلونو کې د سولې خبرې پیل نه کړې، چې اوسمهال یې په یوځلي ډول خپلو هڅو ته ادامه ورکړې او ظاهراً په هر ډول شرایطو سره د دغو خبرو بریالیتوب او هوکړې ته تیار دي؟

امریکا له یوه منظم سیاسي جوړښت سره سره چې د ولسمشر واکونه تر یوې کچې محدودوي، خو بیا هم د دغه هېواد ولسمشران په خارجي سیاست کې ازاد لاس لري او کولی شي چې په خپلسرې توګه تصمیم ونیسي. د بېلګې په توګه، د دغه هېواد پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش له تروریزم سره د مبارزې په نوم په افغانستان کې جګړه پیل کړه او تر ډېره یې په نظامي انتخابونو باور درلود، د اوباما په راتګ سره په افغانستان کې د دغه هېواد په سیاست کې بدلون راغی او تر ډېره یې د بیان د ازادۍ، بشري حقونو، ښځو حقونو او ټاکنو په ترسره کېدو باور درلود، خو د ټرمپ په راتګ سره د تمې خلاف د سولې خبرو د بل هر وخت په پرتله زور واخیست او تر ډېره یې تمرکز پر دې و، چې طالبان د سولې خبرو مېز ته تیار کړي. ټرمپ له ټاکنیزو کمپاینونو رانیولې بیا تر نن پورې پر دې ټینګار کړی، چې په بهرنیو هېوادونو کې خپل پوځي حضور کم کړي او یا لږ تر لږه د دوی په مصارفو کې کموالی راولي. نوموړي له سوریې څخه د خپلو ځواکونو په ایستلو او د افغان سولې پروسې په پیل سره دا په ډاګه کړه چې د ده اداره نه غواړي، چې امریکا دې نور هم په هغو جګړو کې پاتې شي، چې له کلونو راهیسې دوام لري او هر کال په لویه پیمانه پیسې پرې مصرفېږي.

**د جګړې دوام او که سوله؛ په کوم یوه کې د امریکا ګټې نغښتې دي؟**

د هېوادونو د ملي ګټو د درک لپاره یو اغېزمن او مهم فکټور چې باید په نظر کې یې ونیسو، هغه پخپله د هېواد له ملي ګټو څخه د مشرانو درک دی. هغه څه چې د یوه ملت لپاره د خپل حکومت یا ولسمشر له لوري تعریفېږي او د دوی په اند مهم وي، نو په ملي ګټو یې بدلېږي.

د امریکا لپاره د اوباما په وخت کې د دغه هېواد ملي ګټې تر ډېره د نړۍ په کچه د امریکا د نفوذ د ساحې پراختیا، هغو ارزښتونو ته لومړیتوب ورکول چې امریکا ورته پابنده ده او دغه راز له منطقوي رقیبانو سره یې د قدرت پر موازنې ټینګار کول وو.

خو د ټرمپ په راتګ سره د امریکا ملي ګټې بیا له مکسیکو سره پر پولې جوړولو، د اسرائیلو د پلازمېنې په توګه د بیت المقدس په رسمیت پېژندلو، له فلسطینیانو سره د مالي مرستو په بندولو، په منځني ختیځ او افغانستان کې د جګړې په ختمولو او دې ته ورته نورو مسایلو بدلې شوې دي.

په ټوله کې باید دا په یاد ولرو، هغه څه چې موږ ته د ملي ګټو په نوم راپېژندل کېږي، ښایي عملاً زموږ ګټې نه وي، خو دا چې د حکومت له ادرسه راته ویل شوي، نو په ملي ګټو بدلېږي.

دا چې له طالبانو څخه د دې تضمین واخیستل شي، چې د ترهګرو ډلو پر وړاندې به مبارزه کوي، دا د امریکاد ګټې په مانا دی، ځکه په دغه صورت کې طالبان په دې پوهېږي چې د دغه کار خلاف پر مخ ولاړ شي، نو د ۲۰۰۱ ز کال له سرنوشت سره به مخ شي.

د ټرمپ وروستیو کارونو ته په کتو او دا چې په عملي توګه یې خپلو خلکو د امریکا د ملي ګټو په نوم تمثیلوي، په افغانستان کې د جګړې پای د دغه هېواد او خلکو په ګټه دی او د ملي ګټو یوه برخه یې جوړوي.

**طالبانو که افغان حکومت؛ کوم یوه ښه تګلاره غوره کړې ده؟**

د افغان سولې پروسې له پیله تر دې مهاله، نه یوازې دا چې طالبانو ښه ډیپلوماسي غوره کړې ده، بلکې متأسفانه له افغان حکومت څخه په دې برخه کې مخکې شوي هم دي. طالبان پردې بریالي شوي، چې ځان له یوې تروریستي ډلې څخه چې په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکا لخوا په دغه نوم ونومول شول، ځان د افغان حکومت پر یو قوي سیاسي سیال بدل کړي او استازي یې د سیمې لویو قدرت لرونکو هېوادونو لکه روسیې، پاکستان، ایران او چین ته سفرونه کوي او حتی د هغه هېواد لپاره چې په ۲۰۰۱ ز کال کې یې د بن په کنفرانس کې د حقوقو ورکړې ته اماده نه و، د ملاحظې وړ شرطونه وړاندې کوي. د ډیپلوماسۍ له اصل څخه په ګټې اخیستنې، په سیاسي مذاکره کې د هغو ډیپلوماټانو پېژندنه چې کاپي سیاسي فهم ولري او د مذاکرې په اخر کې د خپله تله درنه وښیي، ډېره ضروري ده.

تر اوسه دې افغان حکومت او طالب استازو ترمنځ د سولې په تړاو کومه غونډه نه دې شوې. د مسکو غونډه کې د سولې عالي شورا ډېر کمزوري استازي په مستقل ډول برخه لرله، خو په هغه کې هم افغان حکومت ونه توانېد، چې هغې غونډې ته خپل تکړه ډیپلوماټان او استازي ولېږي، څو د طالبانو او امریکا پام ځان ته واړوي.

طالبانو امریکایانو ته دا باور ورکړ، چې دوی هېڅکله هم د جنګ په میدان کې ماتې نه خوري، هغوی له ځان سره د روسیې، ایران، پاکستان او چین ملاتړ لري او تر هغې چې غوښتنې یې منل شوې نه وي، دوی به خپلې روان کړې مبارزې ته ادامه ورکوي. هغوی د حکومتي لوري په حیث له سیاسي او جهادي رهبرانو سره د لیدو په موافقې داسې وښوده، چې افغان حکومت له دوی سره د وار وار مخامخ خبرو تر غوښتنې پرته بله لار نه لري. هغوی د سیمې هېوادونو باور تر لاسه کړی، چې هغوی په افغانستان کې تر ډېره د داعش د حضور مخه نیولې او په هېڅ صورت د دوی امنیت ته خطر نه شي پېښولای. په ورته وخت کې د افغان حکومت لخوا دوحې غونډې ته د ۲۵۰ کسیز پلاوي اعلان او د طالبانو لخوا د دغه نوملړ مسخره کول بیا هم د افغان حکومت له سیاسي ضعفه پرده پورته کړه. د دې روانې پروسې په لړ کې، طالبانو ښه تګلاره غوره کړې او خپلې برنامې یې ښې پلې کړې دي.

**ایا رښتیا به هم دا هڅې سولې ته ورسېږي؟**

هېڅ ډله او جریان نه شي کولای، دا تضمین ورکړي چې دغه هڅې به سولې ته ورسېږي او که نه. په دې لړ کې هغه څه چې تر ټولو روښانه دي، هغه د افغان ملت غوښتنه ده، چې هغه سوله غواړي او په هېڅ صورت نور هغوی د دې څلوېښت کلنې جګړې اوږدېدو ته حاضر نه دي او نه هم د دې جګړې د اوږدېدو لپاره له بهرنیو مرستو پرته، خپله دا شیمه لري. کېدای شي د سولې په نوم روانې هڅې رښتینې سولې ته ونه رسېږي، خو د اوس لپاره د جنګ په نسبت د ښې پایلې بدیله ټاکنه ده. که بیا هم افغان حکومت ښه تګلاره غوره نه کړي او د دې پروسې د مخکې بېولو لپاره داسې استازي ونه ګوماري، چې هغوی ښه سیاسي فهم ولري، هېڅ ممکنه نه ده چې دغه فرصت د زموږ په ګټه پای ته ورسېږي. باید په یاد ولرو چې تر ټولو قېمت لرونکې سوله د ډېر کوچنې جنګ په پرتله هم ډېره ارزانه ده.

**زموږ سرې کرښې به څه وي؟**

د افغانستان اساسي قانون، د ښځو حقوق، د بیان ازادي، ټاکنې او... هغه ارزښتونه دي، چې تر هرڅه زیات افغان ملت پر هغه ټینګار کوي او د افغان حکومت لخوا هم د سرو کرښو په توګه وړاندې شوي دي. خو اوسنیو شرایطو ته په کتو، باید پوه شو چې د یوې مذاکرې مانا هم همدا ده، چې څه به له لاسه ورکوو او څه به لاسته راوړو، که ته خپلې غوښتنې پر مقابل لوري منې، د هغه به هم ځینې شرطونه قبلوې. نو پر دې اساس لومړی باید د خبرو او مذاکرې فرصت برابر شي او وروسته بیا دا مسایل رامنځ ته شي.

**د سولې لپاره نور باید څومره په تمه و اوسو؟**

دا چې سوله به په یوه ورځ، یوه اونۍ، یوه کال او یا هم یوه لسیزه کې راځي، لا هم معلومه نه ده، خو لږ باید حوصله وکړو. ځکه له طالبانو سره ۱۸ کاله جنګ جګړه، دومره وژل شوي او ټپیان چې د دغه بهیر قرباني دي، د یوې ژر راتلونکې سولې تمه ورته نه شي کېدای؛ بلکې دغه هڅې باید ادامه پیدا کړي او د سیمې هېوادونو په همکارۍ، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو لپاره باید فرصت برابر شي. په ډېرو هغو هېوادونو لکه کلمبیا کې چې جنګ د سولې په نتیجه کې پای ته رسېدلی دی، یوازې د پردې تر شا مذاکرو څو کاله دوام کړی دی او وروسته بیا سولې ته رسېدلي دي. نو پر دې اساس به دغه مذاکرات هم وخت وغواړي.

**د سولې له احتمالي تړون وروسته به بیا هم رښتینې سوله راشي؟**


هغه څه چې یو حکومت یې د منازعې په دوران کې بریا ته نه شي رسولی او باید د سولې لار خپله کړي، هغه د ملت غوښتنې په پام کې نیول دي، چې حکومت دا کار کولای هم شي. دا چې د سولې د احتمالي تړون په اړه خبرې کول به له وخته مخکې خبره وي، خو په یاد ساتئ چې هغه به یوازې د کاغذ پر مخ لیکل شوی تړون وي او په دې اړه چې ایا افغان حکومت او طالبان به هغه ته ژمن پاتې کېږي او که نه، هېڅ تضمین نشته او نه هم د جګړې د پای خبره یقیني کېدای شي. موږ باید هیلې له لاسه ور نه کړو او دا دعا وکړو چې په هېواد کې مو تلپاتې او دایمي سوله راشي او په دې کشاله کې ښکېل اړخونه هر یو خپل مسوولیت په ښه ډول سره ترسره کړي.

# د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي له ملابرادر سره د افغان سولې په اړه خبرې کړې دي

د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مشر ملا برادر سره لیدلي دي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې د ملا برادر او مارکس پوتزیل ترمنځ دغه لیدنه ورمه ورځ په دوحه کې شوې ده.

سرچینې زیاته کړې چې دواړو خواوو د افغانستان پر روانو حالاتو، د افغانستان د مسئلې د سوله ییز حل پر بېلابېلو اړخونو او په دې برخه کې د جرمني د هڅو په باره کې خبرې کړې دي.



په خبرپاڼه کې راغلي، دغه راز د المان ځانګړي استازي د سولې په اړه د خپل هېواد د مثبت رول لوبولو ډاډ ورکړی او ټینګار یې کړی چې په دې هکله به د طالبانو له سیاسي دفتر سره خپلو تماسونو ته دوام ورکړي.

د یادونې ده چې د جرمني ځانګړي استازي له دې مخکې تېره اونۍ په کابل کې له ولسمشر اشرف غني، اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او ځینو نورو سیاسي مشرانو سره هم لیدلي وو.

ویل کېږي چې نوموړی په جرمني کې د بین‌الافغاني ناستې جوړولو لپاره هلې ځلې کوي.

له دې مخکې د اندونیزیا، ازبکستان او اروپايي ټولنې استازو هم په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مشر سره لیدنې کتنې کړې دي.

له طالبانو سره د نوموړي دغه ناسته داسې مهال ده، چې د افغان سولې په تړاو په دوحه کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ شپږ پړاوه خبرې شوې دي، خو له کومې هوکړې پرته پای ته رسېدلې او ټاکل شوې چې د دغو خبرو په دوام به اوومه غونډه هم په نږدې راتلونکې کې ترسره شي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ورمه ورځ ازادي راډیو ته په دې تړاو ویلي وو، چې د مذاکراتو په اووم پړاو کې به هم د شپږم هغه اجنډا تعقیبېږي.

# امريکا له ايران سره جنگ غواړي؟

ليکنه: جوناتن مارکس / بي بي سي پښتو

په دې تړاو دوه نظرونه شته؛ لومړی نظر چې د ډونالډ ټرمپ حکومت يې خوښوي، وايي چې د ايران هڅوکي سوځي. ويل کېږي چې د امريکا پر اهدافو د سختو بريدونو لپاره تياری نيول شوی، خو په دې تړاو ځانگړی تفصيل نه ور کول کېږي.

امريکا هم په سيمه کې خپل ځواکونه پياوړي کړي، ناضروري ډيپلوماټيک کارکوونکي له عراقه وباسي او رپوټونه وايي چې پخوانۍ جنگي نقشې څنډي.

دويم نظر؛ امريکا د اوسني کړکېچ يوازينۍ مسووله بولي. عجيبه نه ده چې ايران دا ډول نظر ولري، خو د ټرمپ کورني مخالفان هم ورته نظر لري؟ ان د ټرمپ ډېر اروپايي ملگري هم لږ او ډېر په دې اندېښنه کې شريک دي.

د دغه نظر له مخې، د ټرمپ په اداره کې د ايران ضد غړي، د ملي امنيت سلاکار جان بولټن او د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو دغه چانس غنيمت بولي.

د دغه نظر پر اساس، د دوی موخه په تهران کې د رژيم بدلول دي او که اقتصادي فشار نتيجه ور نه کړي، نو په مناسبو شرايطو کې پوځي زور کارول هم لرې خبره نه ده.

دغه دوه نظرونه له واقعيت څخه متفاوت تعبيرونه دي او د تل په څېر د خپلې خبرې د منلو لپاره ځينې حقايق لويوي او د بل لوري يا پاتې حقايق له پامه غورځوي.

خو په دې برخه کې اخځ او مشاهده د واقعيت په څېر مهم دي. ان ويلی شو چې له ډېرو برخو واقعيت جوړوونکي دي.

هغه واقعيت دا دی چې د متحده ايالتونو او ايران ترمنځ ښکېلتيا که ناڅاپي وي يا هم د پروگرام له مخې، له بل هر وخت د ډونالډ ټرمپ په واکمنۍ کې ډېره ممکنه ده.

منځني ختيځ کې زياتېدونکی تاوتريخوالی ايران چې د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون ترې بنديزونه لرې کړي وو، اوس د بنديزونو د بيا لگېدو له امله له فشار سره مخ دی او هڅه کوي چې مقابله يې وکړي، څکه يې خبرداری ور کړی چې د اټومي فعاليت د محدودولو پر ژمنه ونه دريږي.

مهمه خبره دا ده چې ډگر ته د ټرمپ وتل و. هغه تېر کال متحده ايالتونه له اټومي تړون څخه و ايستل او پر تهران يې د لا ډېر فشار اچولو سياست ته مخه کړه.

د ايران زغم هم تمام دی. پر اروپايي هېوادونو فشار را وړي چې له ناروغ اقتصاد سره يې مرسته وکړي او که داسې نه کېږي، گواښ هم کوي چې له اټومي تړونه به ووځي، خو مالومه نه ده چې څه يې په وس پوره دي که نه، څکه دا ډول کار د ډونالډ ټرمپ متې نورې هم پياوړې کوي. اوس ډېر شيان د ټرمپ کورنيو تحرکاتو او د ايران کورنيو پېښو ارزولو پورې تړلي دي.

ټرمپ پخپله هڅه کوي چې د ايران په مسئله کې د تر لاس لاندې کسانو د نظر اختلاف بې اهميته وښيي او داسې رپوټونه هم شته چې جگړې ته يې هم ډېر زړه نه کېږي.

له پولو لرې جگړو سره مخالفت يې هر چا ته ښکاره دی، خو پر امريکايي ځواکونو او گټو بريدونه به هم له پامه ونه غورځوي، خو له دې سره داسې دليل هم نه پاتې کېږي چې تهران مسايلو ته دا ډول وگوري.

ممکنه ده چې ايران فکر وکړي چې بولټن دې د خپل مشر په مخ کې ودرېږي؟ هغوی ښايي وغواړي تر ځانگړي بريده له ناندريو زياتولو سره د بولټن طرحه بربنده او ناکامه کړي. د تهران دا ډول فکر له خطره ډکه ستراتېژي ده.

په داسې حال کې چې د امريکا ستراتېژيک ملگري اسرائيل او عربستان دغه حالت ته خوښ دي، خو د ټرمپ اروپايي ملگري بيا له دغه څه اندېښمن دي چې له همدې کبله د دغو ناندريو له زياتېدو سره اسپانيا، جرمني او هالنډ په سيمه کې له امريکا سره خپل گډ پوځي فعاليتونه ځنډولي دي.

اوس د ايران او امريکا ترمنځ د جگړې پېښېدو د جزياتو اټکل مناسب وخت نه دی، خو د عراق د ۲۰۰۳ ز کال له جگړې سره پرتله يې هم پر ځای نه ده. د صدام حسين د وخت له عراق سره د ايران د قضيې پرتله بنسټيز توپير لري، نو په همدې اساس پر ايران بشپړ يرغل به په پلان کې ونه نيول شي.

دا جگړه به په هوا او اوبو کې وي او د ايران سخت ځواب به هم ووينو، چې ممکن ټوله سيمه د اور لمبه کړي.

ځينې کسان د ټرمپ په بريالیتوب پسې د امريکا بهرني سياست کې د ممکن ناورين پېښېدو ته اندېښمن وو، خو اوس د مختلفو عناصرو څو اړخيز کړکېچ روان دی، چې د ايران په مسئله کې ښه ليدل کېږي. له نړيوالو تړونونو تېرېدل، په سيمه ييزو ملگرو ډېره تکيه چې پخپلو موخو پسې دي؛ په ناټو کې له پخوانيو شريکانو سره د ناندريو ډېرېدل او تر ټولو مهم د واشنگټن د رېښتينو او ستراتېژيکو گټو پر سر د سترو قدرتونو ترمنځ د سيالۍ بيا ژوندي کېدل او هغه په داسې مهال کې چې امريکا د چين د پرمختگ او د روسيې له بې پروا ځواکونو سره د مقابلې لپاره خپل وسلوال ځواکونه پياوړي کول غواړي، نو ايران ولې د امريکا ستراتېژيک لومړيتوب وي؟ ايا ايران داسې گواښ دی چې سخته جگړه ور سره وشي؟ ډېر امريکايي څارونکي دې پوښتنې ته منفي ځواب ور کوي.

ډېر مني چې د ايران د محدودولو او پر امريکايي گټو د بريد ځواب يې ښايي فرض وي، خو د جنگ په لور ورو پرېډ فرض نه دی. بل څه هم بايد روښانه شي او هغه دا چې موږ د جگړې پر لور ورو نه ځو، خو که ناعادي بهير روان وي او د چا له وسه څه نه کېږي، نو د ايرانيانو او امريکايانو له اگاهانه پرېکړو او له سمو يا ناسمو محاسبو جگړه پېښېدلی شي.

# راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې؛

## څارونکي بنستونه وايي چې د ټاکنو کمېسيون نوې رهبري تر دې دمه ناکامه ده



سره له دې چې د ملي يووالي حکومت مشرتابه په ټاکنو کې د کم کارۍ او همدا راز د درغليو د تورونو له امله د ټاکنو خپلواک کمېسيون پخوانۍ رهبري له دندې گوښه کړه، خو ويل کېږي چې نوې رهبري هم تر دې دمه په خپلو چارو کې برياله نه ده.

وروسته له دې چې د ولسي جرگې تېرو ټاکنو د ملي يووالي حکومت او ټاکنو کمېسيون پر ارادو او فعاليتونو د ولس شک را ولاړ کړ، حکومت پرېکړه وکړه چې د کمېسيون لپاره نوې رهبري غوره کړي. په همدې موخه د ولسمشريزو ټاکنو ټولو نوماندانو د رايو له لارې دغه کمېسيون ته نوې رهبري وگومارله، خو اوس څارونکي بنستونه پر دغه رهبرۍ هم د بې کفايتۍ او کمزوري مديريت تور لگوي.

د کمېسيون د نوې رهبرۍ له کار څخه کابو درې مياشتې تېرېږي، خو لا يې هم چارې خورا ورو پرمخ ځي او په تازه پرېکړه کې په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د بايومټريک سيستم له کارولو هم په شا شوي دي. دغه سيستم د کمېسيون تېرې رهبرۍ په خورا لوړه بيه پېرلی و او په خبره يې په دې سره به ټاکنې شفافې شي او درغلي به کمه شي. خو د کمېسيون نوې رهبري بيا وايي چې دغه سيستم کارنده نه دی.

پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بيا د ولسمشريزو ټاکنو د مهالوېش نه مراعتول له ناظرينو سره نه همغږي، په چارو کې د شفافيت نشتون او کمزوری مديريت هغه مسايل بولي، چې کمېسيون يې د خپل کار په لومړي پړاو کې په عملي کولو کې پاتې راغلی دی. د ازادو او عادلانه ټاکنو اجرايوي رييس يوسف رشيد ويلي، د ټاکنو کمېسيون په خپلو لومړنيو کارونو کې ناکام دی. د نوموړي په خبره، خلکو ته په عامه پوهاوي، د وسايلو په تنظيم، د کارکوونکو په روزنه او همدا راز د مهالوېش له مخې عمل نه کول هغه څه دي، چې د کمېسيون نوې رهبري پکې پاتې راغلې ده.

د يوسف رشيد په باور، د ټاکنو کمېسيون نوې رهبري له ژمنو سره سره په خپلو کارونو کې ناکامه شوې ده. نوموړي ويلي: ((کمېسيون هغه څه چې ژمنه کړې وه چې بايد ترسره يې کړي، وربانديې برياله شوي نه دي، نو څکه يې په لومړنيو چارو کې ناکام بللی شو)).

که څه هم د راتلونکو ټاکنو د تر سره کولو برخليک روښانه نه دی، خو حکومت د رڼو او عادلانه ټاکنو تر سره کول د کمېسيونونو مسووليت گڼي او ټينگار يې دا دی چې ټاکنې بايد د ستونزو ښکار نه شي. بل پلو د ټاکنو خپلواک کمېسيون بيا وايي چې دوی پر خپل وخت د ټاکنو تر سره کولو ته ژمن دي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييس حوا علم نورستانۍ پرون په يوه مرکه کې ويلي وو، چې ولسمشريزې ټاکنې به پر خپل وخت ترسره کېږي.

نوموړې دا هم ويلي وو، چې امريکا ترې د ولايتي شورا د ټاکنو ځنډول غوښتي دي. د نورستانۍ په خبره، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيالې اليس ويلز ورته ويلي، چې د وخت د کموالي او ستونزو له امله بايد يوازې پر ولسمشريزو ټاکنو تمرکز وشي. خو نوموړې وايي چې دواړه ټاکنې په يوه وخت ترسره کېږي او دوی يې د ترسره کولو وړتيا لري.

بل پلو پرون طلوع نيوز د خپلو سرچينو په حواله ليکلي وو، چې په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د مرستندويه دفتر يا يوناما مشر تادامیچي یاماموتو د کمېسيون له مشرتابه سره کتلي دي او له دوی يې د ولايتي شورا د ټاکنو ځنډول غوښتي دي. خو په يوناما کې رسمي سرچينو دغه راپور رد کړی دی.

ټاکنو کمېسيون داسې مهال د خپلو چارو د ښه ترسره کېدو او پر وخت د ټاکنو تر سره کولو خبره کوي، چې د شنونکو په باور ټاکنو ته کم وخت پاتې دی او ښايي دغه کمېسيون بريالی نه شي چې خپلې ژمنې عملي کړي.

# سعودي عربستان په سيمه کې د کړکېچ د زياتېدو له کبله دوې بېړنۍ غونډې رابللې دي



په داسې حال کې چې د ايران او سيمې هېوادونو په اړيکو کې کړکېچ مخ په زياتېدو دی، د سعودي عربستان پاچا ملک سلمان د خليج د همکارۍ شورا او د عرب ليگ پر مشرانو غږ کړی، چې په سيمه کې د وروستيو بريدونو په اړه د بحث لپاره د روانې مې مياشتې په ۳۰مه، په مکه کې د بېړنيو غونډو لپاره راټول شي.

د سعودي او نورو عرب چارواکو له قوله ويل شوي، چې په دغو بحثونو کې به د متحده عربي اماراتو سواحلو ته نږدې، پر څلورو تجارتي بېړيو د بريد او همدا راز رياض ته نږدې د تېلو د توليد پر تاسيساتو د بې پيلوټه الوتکو په وسيله د بريدونو پر لړۍ تمرکز وشي.

دا په داسې حال کې ده چې د سعودي د تېلو پر تاسيساتو د بريدونو مسووليت د يمن ايران پلوې حوثي ډلې، چې تهران يې ملاتړ کوي، منلې دی.

د سعودي عربستان رسمي خبري آژانس سپا د بهرنيو چارو وزارت د يوه چارواکي له قوله راپور ورکړی، چې عرب مشران به د مکې په سرمشريزو کې د دغو بريدونو او همدا راز په سيمه کې د نورو دې ته ورته پېښو د مخنيوي د تدابيرو په اړه بحث وکړي.

د سعودي د بهرنيو چارو وزير عادل الجبير پر تهران تور لگولی، چې د سيمې د بې ثباتۍ هڅه کوي.

الجبير له نړيوالې ټولنې غوښتي چې د ايران د دغو هڅو د مخنيوي په برخه کې مسوولانه اقدامات وکړي.

د سعودي نږدې متحد، متحده عربي اماراتو د دې سرمشريزې د رابللو لپاره د ملک سلمان اقدام ستايلی او ويلي يې دي چې په منځني ختيځ کې په اوسنيو حساسو شرايطو کې دې ته اړتيا شته، چې عربي هېوادونه په خليج او نورو سيمو کې يو موټی و اوسي.

د ايران او سيمې د نورو هېوادونو ترمنځ دغو ناندريو په داسې حال کې زور اخيستی، چې د متحده ايالتونو او ايران ترمنځ اړيکې هم د بل هر وخت په پرتله ترينگلې شوې دي. واشنگټن په منځني ختيځ کې خپل پوځي حضور پياوړی کوي او د استخباراتي اطلاعاتو پر بنسټ، ادعا کوي چې ايران په سيمه کې د بريدونو پلان لري، خو له دې ټولو خبرو سره سره واشنگټن او تهران دواړو د جگړې احتمال رد کړی دی.

د سعودي د بهرنيو چارو وزير هم ويلي چې هېواد يې په سيمه کې جگړه نه غواړي او نه د جگړې د پارولو هڅه کوي. نوموړي ويلي، سعودي عربستان به د جگړې د مخنيوي لپاره تر خپلې وسې هڅه وکړي، خو هغه په ورته وخت کې خبرداری ورکړی، چې که نور اړخونه جگړه غوره کړي، نو دغه هېواد به هم له خپل ټول ځواک څخه کار واخلي، څو د خپل ځان او خپلو گټو دفاع وکړي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### لسم څپرکی
### عمل مو عادت کړئ




يو شرکت دی، دوی د خلکو کورونو ته ځي او سودا خرڅوي، د دې شرکت د خرڅلاو مدير راته کيسه کوله چې څنگه يې خپل کارکوونکي روزلي او هره ورځ څنگه تر پخوا زر او په بريا سره خپل کار پيلوي.

کيسه يې کوله:

(څوک چې په کورونو گرځي او سودا خرڅوي، دوی ښه پوهېږي چې په خلکو ښه نه لگېږي. سهار وختي تگ ان ډېرو ښو پلورونکو ته هم سخت دی. دوی خپله هم پوهېږي چې تر ماښامه يې څو ځله وضيعت ورانېږي. په دې خاطر سهار د کار پيلولو وخت ورځ تر بلې ځنډوي. دوی ځان په چای څښلو بوختوي، کور کې هاخوا ديخوا گرځي يا هسې په وړو کارونو اخته وي، دا کار يوازې د دې لپاره کوي چې لومړي کور ته ورتگ يې وځنډېږي.

زه ټولو نويو راغليو ته دا لاره ښيم او ورته وايم چې د پيل يوازينۍ لاره پيلول دي، نو يوه شېبه هم مه ځنډېږئ. ورته وايم خپل کار وکړئ. موټر ودروئ. د نمونو کڅوړه واخلئ. د کور دروازه ووهئ. موسکا په شونډو راولئ او ووايئ: (سهار پخير) بيا ورته خپل توکي معرفي کړئ، دا ټول کارونه هر ورځ په ميکانيکي ډول وکړئ او هېڅ حساسيت پکې مه ښيئ. کورونو ته تگ په همدې ډول پيل کړئ او وېره ماته کړئ. دويم او درېيم ځل ورتگ ته مو ذهن جوړېږي او تاسې به بيا خپل توکي په ډېر ښه ډول وپلورئ.)

وايي کوم ټوکي سړي ويل چې انسان ته تر ټولو سخت کار دا دی چې يخې کوټې کې له تودې بړستنې راپورته شي. په دې خبره کې يې هم يو مطلب و. تاسې چې په تودې بړستنې کې پراته يئ او فکر کوئ چې له دې بړستنې پاڅېدل خو ولا ډېر سخت کار دی، دا کار درته هم دومره سختېږي. خو که تاسې راپاڅېږئ، بړستن لرې کړئ او په ځمکه پښې کېږدئ، همدا سختي خپله ختمېږي.

دا روښانه خبره ده، کوم خلک چې کار ختموي هغوی دېته نه گوري چې ته صبر وکړه (غر ) راشي، بلکې دوی خپله کار ته زمينه برابروي.

دا دوه کاره وکړئ:

۱. په کور او کارځای کې عادي او سترې کوونکي کارونه په ځينو ميکانيکي حرکاتو اسانه کړئ. د کارونو په نامهمو اړخونو فکر مه کوئ. دستي يې پيل کړئ.

په ټول کور کې ښايي ښځو ته سخت کار د لوښو مينځل وي. زما مور له دې حالته بهر نه ده، خو دې يوه ميکانيکي طريقه زده کړې ده او ډېر زر پرې کار ختموي.

دا چې څنگه له دسترخوانه پاڅېږي، يو څو لوښي ځان سره واخلي او بې فکره خپل کار يعنې د لوښو مينځل پيل کړي. په څو دقيقو کې ټول لوښي ومينځل شي. آيا دا کار د لوښو د مينځلو غم او وېره نه ختموي؟

دا کاره هره ورځ وکړئ: کوم کار مو چې نه خوښېږي، هغه کار ته لاس کړئ، هېڅ وېره او زړه تنگي مه احساسوئ او کار وکړئ. دا د ورځينو کارونو د کولو تر ټولو ښه طريقه ده.

۲. د مفکورو، پلانونو، نقشو او ستونزو حلولو او نورو هغه کارونو لپاره ميکانيکي لارې چارې وکاروئ، چې ذهني فعاليت ته اړتيا لري. دې ته مه کينئ چې ستاسې ذوق دې تاسې ته حرکت درکړي، بلکې تاسې خپله خپل ذوق او احساس ته حرکت ورکړئ.

يو بل تخنيک هم شته، باوري يم چې مرسته به درسره وکړي: قلم او کاغذ وکاروئ. د تمرکز لپاره پنسل تر ټولو ارزانه وسيله ده. که يوې خوا ښايسته دفتر، موبل و فرنيچر او اسانتياوې وي او بل خوا ساده قلم او کاغذ وي، نو زه به قلم او کاغذ واخلم. د قلم او کاغذ په مرسته ذهن په يوه خبره متمرکزکولای شئ.

تاسې چې يو فکر کاغذ ته راوړئ، خپله مو ټول ذهن پرې متمرکز کېږي. ځکه د انسان ذهن داسې نه دی جوړ شوی چې فکر دې پر يوې موضوع کوي او ليکي دې بله موضوع. کوم شيان چې په کاغذ ليکئ، هغه په خپل ذهن کې هم ثبت کړئ. څېړنو ښودلې کوم فکر چې کاغذ ته راشي، هغه تر ډېره او دقيق ياد وي.

که د قلم او کاغذ په مرسته له فکر کولو سره عادت شوئ، بيا په گڼه گوڼه ځايونو کې هم فکر کولای شئ. هر وخت مو چې فکر کاوه، ليک پيل کړئ، پاڼه توره کړئ يا رسم وکړئ. دا نوښت ته د حرکت ورکولو تر ټولو ښې لارې دي.

(اوس) د برې کليمه ده. سبا، بله اونۍ، بله ورځ، بل وخت ... دا د ماتې او هېڅکله مترادفې کليمې دي. زموږ زياتره ښه ارمانونه هېڅکله نه پوره کېږي، ځکه موږ خپله وايو چې: (يوه ورځ به يې پيل کړم!)، خو موږ يې بايد اوس پيل کړو، اوس ولې نه؟

عمر دې تېر کړو انتظار کې د وخت
وخت خو د هېچا انتظار نه کوي
(سايل) ژ

سپما يې مثال در واخلئ. هر سړی وايي چې سپما ښه کار دی، خو يوازې ښه توب يې د دې دليل نه دی چې ډېر خلک به گڼي دا ښه کار کوي او پيسې به سپموي. ډېر خلک پيسې سپمول غواړي، خو د گوتو په شمېر يې سپموي.

**دوام لري...**

# اردن

حشمت الله نوري



اردن د اسيا په جنوب لوېديځه کې د منځني ختيځ او د عربي منځني ختيځ د يوه هېواد په توگه، د مديترانې په ختيځه څنډه کې د شمالي عرض البلدونو د ۲۹ او ۳۱ درجو او د ختيځ طول البلدونو د ۳۴ او ۳۹ درجو ترمنځ موقعيت لري.

د دغه هېواد پراخوالی ټولټال ۳۵٦۳۷ ميل مربع دی، چې له دې پلوه د نړۍ ۱۰۴م لوی هېواد دی. د اردن شمال ته سوريه، شمال ختيځ ته عراق، جنوب ته سعودي عربستان، ختيځ ته عربستان او لوېديځ ته يې اسرائيل موقعيت لري.

د اردن اقليم د ځانگړي جغرافيايي موقعيت له امله، د مديترانې تر اغېز لاندې دی. دوبی يې وچ- تود او ژمی يې لوند او سوړ دی. د دغه هېواد د غرنيو سيمو دوبی معتدل او د ټيټو سيمو خورا تود دی. د دغه هېواد په ختيځو او لوېديځو لوړو برخو کې ژمی واوره ورېږي، خو په ټيټو سيمو کې يې هوا معتدله وي.

دغه هېواد د سيند په واسطه په دوه برخو وېشل کېږي. لوېديځه برخه سره له دې چې د کرنې وړ ده، خو بې حاصله پرته ده او د ختيځې برخې ځمکه لږ شنه او نوره شاړه دښته ده. دغه هېواد له شمال ختيځ څخه تر جنوب لوېديځ پورې ۵٦۵ کيلومتره اوږدوالی او له ختيځ څخه تر شمال لوېديځ پورې ۳۵۰ کيلومتره پلنوالی لري.

د اردن پلازمېنه د عمان ښار دی او ټولټال يې نفوس څه باندې لسو ميليونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کيلومتر مربع سيمه کې يې ۱۱۴ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد ۸۵ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۱۵ سلنه يې په کليو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

اردن د اداري وېش له پلوه پر ۱۲ ولايتونو وېشل شوی دی. زرقا، اربيد، مفرق، جرش الکرک، خبرون نابلوس، ماديا، سماريا او کباتيه د دغه هېواد مهم او مشهور ښارونه دي.

د دغه هېواد رسمي ژبه عربي او انگليسي په کې د دويمې ژبې په توکه په ښوونځيو کې لوستل کېږي، خو ليکدود يې عربي دی. په دغه هېواد کې ۹۳ سلنه وگړي د اسلام دين پيروان دي، څلور سلنه يې يهود او پاتې يې د ناپېژاند دين پيروي کوي.

د اردن د حکومت ډول مشروطه شاهي دی، چې د ملک عبدالله بن حسين کورنۍ دغه واگې په لاس کې لري. د دغه هېواد اوسنی پاچا دويم ملک عبدالله بن ملک حسين او لومړی وزير يې عمر الرزاز دی.

د اردن پاچا د واک له تر لاسه کولو وروسته په پارلمان کې لوړه کوي او دا صلاحيتونه لري، چې قوانين توشيح، د جگړې اعلان، د سولې منل، د ملي تړونونو منظوري او د لومړي وزير د کابينې د غړو او د هېواد د نورو عاليرتبه ملکي او پوځي چارواکو ټاکل په خپله خوښه وکړي. د دغه هېواد اوسنی اساسي قانون د ۱۹۵۲ ز کال د جنورۍ په اتمه نافذ شوی دی. په دغه قانون کې په ۱۹۷۴، ۱۹۷٦ او ۱۹۸۴ ز کلونو کې لږ لږ بدلونونه راغلي دي.

د دغه هېواد ملي شورا دوې جرگې لري، مشرانو جرگه چې ٦۰ غړي يې د څلورو کلونو لپاره د پاچا له خوا ټاکل کېږي او ولسي جرگه چې ۱۲۰ غړي يې د ټولنې د ټولو برخو په تناسب، د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې رايه ورکول عمومي او د رايې ورکولو سن په کې شل کاله ټاکل شوی دی.

د اردن د قضاييه قوې په سر کې د تمييز عالي محکمه ځای لري. د دغه هېواد حقوقي نظام د اسلام او د فرانسې د قوانينو پر بنسټ جوړ شوی دی.

بعث ترقي غوښتونکی گوند، عربي بعث سوسيالست گوند، عربي اسلامي گوند او عربي اسلامي ولسواک غورځنگ د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

دغه هېواد د ۱۹۴٦ ز کال د مې په ۲۵مه له برېټانيې څخه خپلواکي واخيسته او هر کال دمې ۲۵مه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

دغه وړوکی عربي هېواد د اوبو، تېلو او سکرو په شان د طبيعي موادو له کمبود سره مخ دی. اردن د شلمې پېړۍ د اويايمې لسيزې په پای او د اتيايمې لسيزې په پيل کې د تېلو د بيو د لوړوالي په وخت کې، د عربي هېوادونو له ډېرو مرستو څخه برخمن و. هغه وخت د اردن د ناخالص کورني توليد کلنۍ وده لس سلنه وه او د اتيايمې لسيزې په پاتې کلونو کې دا وده دوه سلنه نوره هم راټيټه شوه، ځکه چې له يوې خوا د عربي هېوادونو مرستې کمې شوې او له بلې خوا له نورو ملکونو څخه د اردني کارگرانو عوايد لږ شول او واردات، استهلاکي شيان او خوراکي مواد د صادراتو په پرتله زيات شول.

د ۱۹۸۹ ز کال په نيمايي کې د اردن حکومت د خپلو بهرنيو پورونو د ورکړې په نوي جدول مذاکرات پيل کړل او موافقه يې وکړه چې د پيسو د نړيوال صندوق پروگرام پلی کوي، چې د اردن په بودجه کې به کسر ورو ورو کم کړي. د ۱۹۹۰ ز کال په اگسټ کې د فارس د خليج اوږده بحران يا د ايران او عراق جگړې د اردن د اقتصاد ستونزې بيا ډېرې کړې، دغه بحران د اردن حکومت مجبور کړ چې د نړيوال بانگ پروگرامونه يوې خواته کړي او د بهرنيو پورونو ورکړه او د دغو پورونو د ورکړې پر نوي جدول باندې خبرې وځنډوي. دغه بحران اردن ته د خليج د سيمې د عربي هېوادونو مرستې په بهر کې د اردني کارگرانو پيسې او سوداگري کمه کړه او اردن ته ډېر مهاجر راغلل، چې دې ټولو د اردن د تادياتو د بيلانس لپاره ډېرې ستونزې وزيږولې، د ناخالص کورني توليد وده په ټپه ودرېده او پر دولتي عايداتي منابعو باندې فشار ډېر زيات شو.

له ۱۹۹۹ ز کال څخه وروسته ملک عبدالله په اردن کې د اقتصادي بنسټونو د پياوړي کولو، د وزگارتيا د کمولو، د خلکو د ژوندانه د ښه کولو، د بهرنيو پورونو د ورکړې او په بهر کې د اردني ځوانانو لپاره د کار د ميندلو په برخه کې ستر گامونه اوچت کړل او پرېکړه يې وکړه چې له نړيوال بانگ سره به له نږدې کار وکړي. له همدې امله يې په دريو کلونو کې په خپلو مالي تگلارو کې بدلونونه راوستل او ډېر دولتي شرکتونه يې په اسانه شرايطو خصوصي سکټور ته پرېښودل.

ملک عبدالله همدا شان هڅه وکړه چې په خپلو سوداگريزو تگلارو او اسانتياوو بيا کتنه وکړي، څو د سوداگرۍ د نړيوالې ټولنې غړيتوب تر لاسه کړي. هماغه وو چې له امريکا سره يې د سوداگرۍ تړون لاسليک کړ او له اروپايي اتحاديې سره يې د گډ کار هوکړه نهايي کړه.

اوس اوس اردن هڅه کوي چې پر بهرنيو پورونو باندې د خپل هېواد اتکا کمه کړي، د خپلې بودجې کسر ډک کړي، ځوانانو ته کار پيدا کړي او د خپلو صادراتي محصولاتو په شمېر او کيفيت کې ښه والی او زياتوالی راولي.

د فاسفيټو استخراج، د تېلو چاڼ، پتروشيمي محصولات، سيمنټ، سگرټ، نباتي غوړي، سابه، دارو درمل، گوگړ، ټوکران، چرم، وړه ماشينري او نور استهلاکي شيان د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورنه دي.

د دغه هېواد شپږ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، نهه سلنه يې څرځايونو او پاتې نوره يې ځنگلونو، غرونو، ډاگونو، سيندونو، ښارونو او د استوگنې کليوالو سيمو نيولې ده. د اردن پنځه سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد څلور سلنه ناخالص کورني توليدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.

غنم، وربشې، زيتون، مېوې، غوښه، لبنيات، هگۍ او واښه د دغه هېواد مهم کرنيز محصولات بلل کېږي.

فاسفيټ، پوتاشيم، اومه تېل، سکاره، اوسپنه، نکل او مگنيزيم د دغه هېواد مهم کانونه دي.

امريکا، عراق، هند، سعودي عربستان، عربي متحده امارات، سوريه، اتوپيا، هالند، المان، مصر او جنوبي کوريا د اردن غټ تجراتي شريکان دي.

اردن ۱۸ هوايي ډگرونه لري، چې ۱۷ يې په عصري او پاخه ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټيليفون کود ۰۰۹٦۲ او د انټرنېټ کود يې JO دی، چې ټولټال يې سل زره کسان ورته لاسرسی لري.

دغه هېواد د ناخالص کورني توليد او سړي سرکلني عايد په حساب، د اسيا او نړۍ د پرمختلونکو هېوادونو له ډلې دی. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو څخه پورته ۹۹ سلنه خلک پر ليک او لوست پوهېږي. په اردن کې زده کړې له ٦-۱۵ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره وړيا او جبري دي.

تاريخ وايي، د اردن په اوسنۍ جغرافيه کې ډېرې پېړۍ مخکې خلک اوسېدل او د بحرالميت څنگ ته د اريحا يا جريکو ښار د نړۍ له خورا لرغونو ښارونو څخه دی. د اردن لومړني اوسېدونکي کنعانيان وو، چې له ډېر پخوا نه هلته مېشت وو. وروسته بيا دوميان او عمونيان له جزيرالعرب څخه ورغلل، له دې وروسته په دغه سيمه کې مصريانو، بابليانو، اشوريانو، کلدانيانو، يونانيانو او په پای کې د اعرابو مسلمانانو هم واکمني کړې ده.

په ٦۲٦ ز کال کې اردن د مسلمانانو لاس ته ورغی، عباسي خلفاوو شام او اردن ته ډېر ارزښت نه ورکاوه، له همدې امله دا سيمه په ۹٦۹ ز کال کې د مصر د فاطمې خلفاوو لاس ته ورغله. په ۱۵۱٦ ز کال کې عثماني ترکانو له خونړيو جگړو وروسته، دغه سيمه ونيوه او څلور پېړۍ يې پرې حکومت وکړ. د ۱۹مې پېړۍ په وروستيو کلونو کې له عثماني امپراطورۍ څخه د خپلواکۍ غوښتنې هلې ځلې پيل شوې او په دمشق او بېروت کې پټې ناسيوناليستي ډلې جوړې شوې. په ۱۹۱۴ ز کال کې انگلستان د عربي ناسيوناليستي خوځښت مشر شريف حسين ته د اعرابو د خپلواکۍ په بدله کې، د المان او ترکيې په ضد د انگليسانو په گټه جگړې ته د دانگلو وړانديز وکړ. د ۱۹۱٦ ز کال په جون کې د اعرابو ناسيوناليستي خوځښت علني شو او په دريو مياشتو کې يې د عربستان په ټاپووزمه کې د حجاز زياته برخه ونيوه او په دې توگه د شريف حسين په مشرۍ يوه خپلواکه عربي سيمه منځ ته راغله او د ۱۹۴٦ ز کال د مارچ په ۲۲مه انگلستان د اردن خپلواکي په رسميت وپېژندله.

د اردن سياسي اړيکې په ۱۹۵۰ ز کال کې له افغانستان سره ټينگې شوې، دا اړيکې په ۱۹۸۵ ز کال کې له وزارت مختاري څخه نااستوگن سفارت ته لوړې شوې. اردن په افغانستان کې له نوي بدلون څخه وروسته، د بلخ ولايت د مزارشريف په هوايي ډگر کې يو صحرايي روغتون هم جوړ کړ.

د کابل او عمان ښارونو ترمنځ د هوا له لارې واټن ۲۹۷۷ کيلومتره او همدا راز د وخت توپير بيا ۲:۳۰ ساعته دی.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۰مه | دریيم کال |۳۷۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

دوشنبه ۱۳۹۸/۲/۳۰
د سهار اذان ۰۳:۰۸ د ماښام اذان ۰۶:۵۶
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | ۳٤ | ۳۵ | ۳۵ | ۳۵ | ۲۸ |
| ۱۳ | ۱۸ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۸ | لمر ختل ۰۵:۰۷ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۵:۰۱ | ماښام ۰۶:۵۶ | ماخوستن ۰۸:٤۳

## نړۍ



# سعودي عربستان په سیمه کې د کړکیچ د زیاتېدو له کبله دوې بېړنۍ غونډې رابللې دي

۳

## بحرين د امنيتي دلايلو له کبله له عراق او ايرانه د خپلو اتباعو د وتلو امر کړی دی



بحرين په ايران او عراق کې له خپلو اتباعو غوښتي، چې د امنيتي دليلونو له کبله له دغو هېوادونو سمدستي ووځي.

د بحرين د دولتي رسنيو د رپوټونو له مخې، د دغه هېواد چارواکو دغه راز ايران او عراق ته د خپلو اتباعو د سفر په اړه هم خبرداری ورکړی دی.

د بحرين د بهرنيو چارو وزارت ويلي، چې دغه پرېکړه يې په سيمه کې د ترينګلو شرايطو له کبله کړې ده.

د بحرين دغه خبرداری د ايران او امريکا ترمنځ د کړکېچ له زياتېدو سره په يو وخت کې مطرح شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ واشنګټن هم په بغداد کې د خپل سفارت غير ضروري کارکوونکي له عراقه وايستل او ويې ويل چې د دغه اقدام دليل د ايران له لوري ممکنه ګواښونه دي.

بلخوا ايراني او امريکايي چارواکو هيله څرګنده کړې، چې وروستني کړکېچونه به د دواړو هېوادونو ترمنځ د جګړې رامنځ ته کېدو ته لاره هواره نه کړي او دوی به ستونزې د خبرو له لارې حل کړي.

خو له دې سره سره، امريکا د فارس خليج ته خپلې الوتکې لېږدونکې بېړۍ استولې او بي-۵۲ ډوله بم غورځوونکې لويې الوتکې يې په قطر کې په خپله پوځي اډه کې ځای پر ځای کړې دي.

## اردوغان: د امريکا له مخالفت سره سره به له روسيې (S-400) ډوله دفاعي سيستم وپېرو



د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان يو ځل بيا ټينګار کړی، چې له روسيې څخه به د توغنديو (S-400) ډوله دفاعي سيستم اخلي.

نوموړي دغه راز ويلي چې د امريکا له مخالفت سره سره به د شوو هوکړو له مخې، له مسکو سره په راتلونکي کې د (S-500) ډوله دفاعي سيستم په توليد کې هم همکاري وکړي.

اردوغان په استانبول کې د محصلانو د پوښتنو او ځوابونو په يوه ناسته کې ويلي: «په دې کې شک نشته چې ترکيه به د (S-400) ډوله دفاعي سيستم د رانيولو اقدام کوي، دا يوه شوې موافقه ده».

نوموړي زياته کړې چې تر (S-400) ډوله دفاعي سيستم وروسته به له روسيې سره په ګډه (S-500) ډوله سيستم هم توليد شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسمشر ډونالډ ټرمپ اداري او د کانګرېس غړو له ترکيې غوښتي، چې له روسيې د توغنديو د ياد دفاعي سيستم د رانيولو هوکړه لغوه کړي.

امريکا وايي، دغه دفاعي سيستم د ناټو له سيستمونو سره اړخ نه لګوي او د امريکا ساخت جنګي الوتکو ته خطر پېښوي.

تر دې وړاندې امريکايي چارواکو په وار وار ترکيې ته خبرداری ورکړی، چې که له روسيې سره د توغنديو د رانيولو دغه پرېکړه لغوه نه کړي، بنديزونه به پرې ولګوي.

## مردم: دولت مسير خاكريز و طالبان شاهراۀ کندهار- ارزگان را مسدود نموده اند



مردم عام و رانندگان وسايط نقليه می‌گويند که طالبان مسلح، شاهراۀ کندهار- ارزگان را مسدود نموده و به هيچ‌کس اجازۀ تردد از اين مسير را نمی دهند.

به قول آنان، طالبان مسلح اين شاهراه را در واکنش به انسداد راه خاکريز توسط نيروهای امنيتی دولت، مسدود نموده اند. مردم می گويند که از بابت بندش راه، با مشکلات جدی مواجه اند و حکومت بايد زودتر برای گشايش آن دست به‌کار شود.

عطامحمد که در امتداد شاهراۀ کندهار- ارزگان تکسی رانی می‌کند، به آژانس خبری پژواک گفته است که طالبان مسلح، از چند روز بدين‌سو شاهراۀ کندهار- ارزگان را به روی ترافيک مسدود کرده اند.

موصوف افزوده است که طالبان در واکنش، به انسداد راه خاکريز توسط نيروهای امنيتی، اين مسير را مسدود نموده اند.

موصوف افزوده است که سران طالبان، به رانندگان و ساکنين منطقه گفته اند تا زمانيکه نيروهای امنيتی راه خاکريز را باز نکرده باشند، به عبور و مرور از اين مسير اجازه نمی دهند.


اما به قول وی، مسدود کردن راه، مردم را با مشکلات مختلف مواجه نموده و طرفين در ماه رمضان از آزار و اذيت مردم منصرف شوند و راه ها را بگشايند.

عزيزاحمد عزيزی سخنگوی والی کندهار، تائيد کرده است که اين راه مسدود است و برای گشودن آن، رانندگان موترها و باشندگان منطقه به مقام ولايت مراجعه نموده بودند. نامبرده گفته است که والی، مشکل را با نيروهای امنيتی درميان گذاشته و به آنها هدايت داده تا عمليات ويژه را برای گشايش شاهراه، راه اندازی نمايند و مردم را از مشکلات نجات دهند.

اما طالبان مسلح در اين خصوص به طور رسمی ابراز نظر نکرده اند.

## ژوند

## د زيتونو تېل او ګټې يې



د طبي څېړونکو يوه ډله په دې وروستيو کې په دې اړه څېړنه کوي، چې په تېرو وختونو کې استعمالېدونکي ساده خواړه د روغتيا لپاره څومره ګټور دي. د همدې څېړنو په نتيجه کې ثابته شوې چې د زيتونو تېل نه يوازې دا چې انسان د زړه له ناروغيو ژغوري، بلکې د وينې فشار هم کنټرولوي.

د يوه برېټانيايي سيمه ييز پوهنتون له خوا په ترسره شوې دې څېړنه کې د زړه پر ناروغۍ د اخته کسانو تشې بولې، د زيتونو تېل له شپږو اونيو مسلسل استعمال وروسته وڅېړل شوې، چې په نتيجه کې ثابته شوه چې د زيتونو د تېلو استعمالول په بدن کې د شريانونو فعاليت په زياتولو سره د زړه د حملې مخه نيسي.


د څېړنې پر اساس د ورځې ۲۰ ملي لېتره او يا هم څلور کاچوغې د زيتونو تېل نه يوازې دا چې انسان د زړه له ناروغيو ژغوري، همدا راز زړه روغ او جوړ هم ساتي.

د کارډيولوجي وسکولر او ميډيکل ساينس انسټيټيوټ مشر ډاکټر بل مولن وايي، چې که څوک په پيل کې پوه شي چې د زړه پر ناروغۍ اخته دی، نو په عاجله توګه دې د زيتونو تېلو استعمال پيل کړي چې د دې ناروغۍ د زياتېدو مخه نيسي او انسان له هغې درملنې ژغوري چې ډېر لګښت پرې راځي.

## که موخه ولرې؛ هرو مرو ورته رسېدای شې

د برياوو پر وړاندې دېوالونه د دې لپاره نه دي جوړ شوي، چې زموږ مخه ونيسي، بلکې د دې لپاره جوړ شوي چې په سختۍ ترې تېر شو او خلکو ته وښيو چې خپلې موخې ته رسېدل راته څومره مهم دي. دېوالونه زموږ مخه نه نيسي، د هغه چا مخه نيسي، چې هيلو ته رسېدل يې ورته مهم نه وي.

يو بېوزله کس پر لاره روان و او د غنمو يوه وړه بوجۍ يې پر اوږه وه، د خپلو ستونزو په فکر کې غرق تللی و، له خدای پاک څخه يې وغوښتل چې نور يې د ژوند دا غوټه خلاصه کړي، په همدې وخت کې د غنمو د بوجۍ خوله خلاصه شوه، غنم پر ځمکه باد باد شول، بېوزله کس وويل: «يا خدايه! ما غوښتل چې د ژوند غوټه مې خلاص کړه، نه د غنمو د بوجۍ». بېوزله کس د غنمو په ټولولو لګيا شو، ګوري چې د غنمو په منځ کې يې د طلايي سکو ډکه هميانۍ ده. نوموړی له خپل عجولانه قضاوت او بې اعتمادۍ سخت وشرمېد.



کله چې ورځ پيلوی، هڅه وکړئ هغه خلک چې ښه کارونه ترسره کوي، ويې ستايئ او تشويق يې کړئ. کله چې موږ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له يو بل سره مرسته کوو، د ورځې په پای کې به ټول ګټونکي يو.